UNHCR
The UN Refugee Agency

# په بلجيم کې د کورنۍ بيا يوځای کيدلو پروسه د نړيوال ملاتړ کټه اخيستونکو لپاره

PS



نوټ: د منل شويو کډوالود کورنيو غړو او فرعی ملاتړ د موقف څخه د ګټه اخيستونکولپاره د اداري لګښتونو معافيت شتون لري ) مګرکه چيرې دوی د بشردوستانه ويزې غوښتونکي وي)

## ٥) د ا پروسه څومره وخت نيسي؟

د غوښتنليک د ډکولو له نيټې څخه د ۹ مياشتو په موده کې، بايد د بلجيم چارواکو لخوا پريکړه وشي. د ځانګړو شرايطو لاندې، دا موده کيدای شي درې مياشتې وروسته دوه ځله وغځول شي (ټول ټال وخت ١٥ مياشتې). که، د ۹ مياشتو مودې پای ته رسيدو وروسته، هيڅ پريکړه ونه نيول شوه ، ستاسو د کورنۍ غړو ته بايد په بلجيم کې د استوګنې اجازه ليک ورکړل شي؟

## ٦) کومې پريکړې کيدی شي ونيول شي؟

د مهاجرت د خدماتو څانګه کولی شي لاندې پريکړې وکړي:

- مثبته پريکړه: ستاسو د کورنۍ غړیD ويزه (د کورنۍ بيا يوځای کيدنه) ترلاسه کوي.
- د مستردېدو پريکړه تر څو د ډي اين اې ازموينه ترسره شي . که چيرې د ډي اين اې ازموينه پايله مثبته وي نو ويزه ورکول کيږي.
- منفي پريکړه : ويزه رد شوې. پدې حالت کې، تاسو بايد د وکيل يا يوې ځانګړي موسسې څخه قانوني مشوره وغواړئ. د ويزې لپاره نوی غوښتنليک هم کيدی شي وړاندې کړئ.

## ٧) تاسو نور معلومات د کومه ځايه ترلاسه کولی شئ؟

د کورنۍ د بيا يوځای کولو د پروسې په اړه د لازياتو معلوماتود لاسته راوړلو او هغه موسسې چې په دغه برخه کې مرسته کوي ، کولی شئ په ګوته شوي بريښناليک

www.unhcr.be/fr/nos-activites/publications/rapports

ته مراجعه وکړئ ترڅو د نړيوال ملاتړپه رڼاکې د کورنۍ د بيايوځای کيدود پروسې په هکله معلوماتې رسالې ته لاس رسی پيدا کړئ.

## ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو سره د پروسې په بهير کې ښه مرسته شوې ده

معلوماتې رسالې ته مراجعه وکړئ ترڅو دهغه موسسو لست ترلاسه کړئ چې تاسو سره د ستاسو د کورنۍغړو د بيا يوځای کيدو په پروسه کې مرسته وکړي.

**http://bit.ly/2sEzFeK**

---

د کورنۍ د بيا يوځای کيدو پروسې په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره د بلجيم د مهاجرينو دفتر رسمي بريښناليک ته مراجعه وکړئ:

**http://bit.ly/2smm2Av**

---

دلاندې بريښناليک له لارې کولی شئ په بهر کې د بلجيم د ډيپلوماتيکو څانګولست ته مراجعه وکړئ:

**http://bit.ly/2rUN9Gh**

---

دلاندې بريښناليک له لارې کولی شئ د آنلاين ويزې غوښتنليک ته لاس رسی پيداکړئ (که چيرې ممکنه وي)

**http://bit.ly/2rYxKjq**

سکين وکړئ او د نورو معلوماتو لپاره ويډيو وګورئ QR-code

UNHCR
The UN Refugee Agency

CONCEPT & DESIGN BY HERENLOEBAS.BE

## ۱) څوک کولی شي چې په بلجیم کې د کورنۍ د بیا یوځای کیدنې د پروسې لاندې تاسو سره یو ځای شي؟

ستاسو ښځه/خاوند او یا راجستر شوي د ژوند ملګري

ستاسو ماشوم چې د ۱۸ کالو څخه کم عمره وي

ستاسو هغه معیوب ماشوم چې ۱۸ کلن یا عمرېې دهغې نه پورته وې

ستاسو والدین که چیرې تاسو یو بې سرپرست ماشوم یاست

د دې نه علاوه، د کورنۍ نور غړي هم د بشري دلایلو له امله کیدی شي چې په بلجیم کې د استوګنې اجازه لیک مستحق وي

## ۲) د غوښتنلیک فورمه چیرته سپارل کیږي؟

ستاسو د کورنۍ غړي باید غوښتنلیک د بلجیم په هغه سفارت یا قونسلګرۍ کې وسپاري چې ستاسوارونده د اوسیدو محل کې فعالیت لري.

ستاسوغوښتنلیک د ضمیمه اسنادو سره مل د بلجیم سفارت لخوا د مهاجرت خدماتوځانګې ته لیږدول کیږي. د مهاجرت خدماتو څانګه به ستاسو د غوښتنلیک د پایلې په هکله تصمیم نیسي.

**تبصره:** په عمل کې، د منل شویو کډوالو کورنۍ غړي او د فرعي ملاتړ چتر لاندې خلک ، په متبادله توګه، کولی شي درخواست د بلجیم په هرهغه سفارت کې وسپاري چې د اوږد مهاله ویزې غوښتنلیکونو لپاره صلاحیت لري.

## ۳) کوم اسناد باید وسپارل شي؟

**په یاد ولرئ: که چیرې ستاسو د کورنۍ غړی د کورنۍ بیا یوځای کیدو غوښتنلیک د کډوالۍ یا د فرعي ملاترړد موقف منل کیدونه وروسته په لومړي کال کې تسلیم کړئ نو په بلجیم کې د کور،** روغتیایي بیمې، کافی، باثباته او منظم ژوند ثبوت وړاندې کولوته اړتیا نه لرئ.

پورته ذکر شوي حالت کې، یواځې لاندې اسناد باید وسپارل شي:

- د ویزې د غوښتنلیک امضاّ شوې فورمه د نویو اخیستل شوو عکسونو سره
- د سفر قانوني سند (ملي پاسپورټ - د UNHCR لخوا صادر شوي آبي پاسپورټ یا ممکن د بلجیم چارواکو لخوا صادر شوی یو لیس پاسر)
- ستاسو د ماشومانو لپاره: د زیږون سند. په عامه توګه، د مهاجرت خدماتو څانګه ممکن د ډي این اې ازموینې غوښتنه وکړي.
- ستاسو د ښځې / خاوند لپاره: نکاح خط سند
- ستاسو د راجستر شوي د ژوند ملګري لپاره: د قانوني شراکت قرارداد، او د ډیرو زیاتو شواهدووړاندې کول چې ستاسود اړیکو پایښت ښايي) عکس، ایمیلونه، سفر ټکټونه او نور)
- که چیرې ستاسو د کورنۍ کوم غړی چې عمر یې ۱۸ یا لوړ وي نو د جنایي جرمي سابقه د نه لرلو یا دې ته ورته سند ثبوت وړاندې کړئ.
- د داسې یوطبي سند لرل چې د بلجیم سفارت او یا د قونسلګرۍ د منل شوي ډاکټر لخوا تائید شوی وي چې ستاسو د کورنۍ غړي د کومې داسې ناروغۍ څخه رنځ نه وړي چې د بلجیم عامه روغتیا په خطر کې واچوي.
- ستاسو د ماشوم لپاره د ۱۸ کالو څخه کم عمر یا ستاسو د میړه / ښځې یا د ژوند ملګري ماشومان) غیر عادي ماشومان):

۱. دهغه کس رضایت ترلاسه کول چې اوس د ماشوم ساتنه کوي ترڅو ماشوم وکولی شي به بلجیم کې یو د والدینوسره میشت شي.

۲. د محکمې هغه پریکړه چې ښايي والدین یې په بلجیم کې د ماشوم د ساتنې ځانګړی حق لري، او یا ماشوم د ساتلو واک لري اویا:

۳. د مړشوي پلار او یا مور د مړینې سند.

٤. د والدینوترمنځ د طلاق د واقع کیدو ثبوت.

- که د ملي قانون مطابق، ستاسو ماشوم د ۱۸ کلو څخه کم عمره او د واده عمر ته رسیدلی وي: د مجردی سند
- ستاسو هغه ماشوم لپاره چې عمریې ۱۸ یا د هغې نه زیات وي خو معلول وي: د داسې یوطبي سند جوړول چې د بلجیم سفارت او یا د قونسلګرۍ د منل شوي ډاکټر لخوا تائید شوی وي ، دا څرګنده کړي چې د هغه د معلولیت له امله ، ستاسو ماشوم د دې وړتیا نلري چې ځانته ژوند وکړي.
- په بلجیم کې ستاسو د اقامې کاپي او د هغه پریکړې یوه کاپي چې تاسویې د کډوال یا د فرعي ملاتړګته اخیستونکي په توګه پیژندلي یاست.

ټول بهرني مستند اسناد چې په اړونده هیواد کې د چارواکو لخوا اوبعدا د بلجیم د باصلاحیته قونسلګرۍ لخوا ورکړل شوي وي ، باید قانوني شي. برسیره پردې، بهرني مستند اسناد، که چیرې د آلماني، انګلیسي، فرانسوي یا هالنډي پرته په بله ژبه کې چمتو شوي وي، باید د یو متعهد ژباړونکي لخوا و ژباړل شي.

## ٤) لګښتونه څه دي؟

- د ویزې فیس یا د ویزې د بشپړولو پروسې فیس، چې اوس مهال ۱۸۰ یورو دی
- د اسنادو ترلاسه کولو، ژباړلو او رسمي کولو لګښتونه
- بلجیم ته د سفر لګښتونه، د سفارت او د هوايي ټکټونو لپاره
- د ډاکټر دندې) طبي سند او د ډي این اې ازموینه)